**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## د ساهیوال پېښې ډزې په ډاګه کوي چې څه ډول امریکا د «تروریزم پر وړاندې جګړه کې» د پاکستان دولت، د وخت ښکېلاکګر پر بې رحمه اداره بدل کړ



**(ژباړه)**

د ۲۰۱۹م د جنوري په ۱۹مه امنیتي ځواکونو، ستر څلور لارې ساهیوال‌تول ته څېرمه په روښانه ورځ کې یو وړوکی موټر چې روان و، تر برید لاندې راوست. په دغې خونړې پېښه کې د ډزو له امله، مور او پلار له خپلې پېغلې لور او خپل نږدې خپلوان سره ووژل شول، دا په داسې حال کې ده چې د هغوی له دریو ماشومانو څخه د یوه پر پښه ګولۍ لګېدلې وه او په معجزه آمېزه توګه ژوندي پاتې شول. د «تروریزم ضد ادارې(CTD)» په خپل ګذارش کې ادعا کړې، چې د هغوی خپلوان تر ښار لاندې ترهګر و او لومړی هغه د خپلې وسلې پر مټ پر ځواکونو برید وکړ او همداراز د یاد برید په لړ کې درې تنه ترهګر پر موټرسایکل وتښتېدل. د ښتې تر پای وروسته مو له مجرم څخه انتحاري واسکټ، لاسي نارنجک، مکروف ډوله تفنګچه او څو میله درنې او سپکې وسلې وموندلې. د عیني شاهدانو په وینا: «لومړی نظامیانو پر موټر ډزې وکړې، نه وسلې او نه هم انفجاري مواد له هغوی څخه ترلاسه شوي.»

تر هغې وروسته چې د پاکستان خاینو حکامو د «ترهګرۍ پر وړاندې د امریکا» جګړې سره تعهد وکړ، د «ترهګرۍ ضد ادارې» ځواکونو په مرسته د دولت لپاره له سیاسي قدرت څخه ګټه اخیستنه یو اصل وګرځېد، ترڅو خپل وحشیانه عملونه وکړي؛ چې د ترهګرۍ ضد مبارزه کوي. ځکه نو مسلح امنیتي ځواکونه د کورنیو د ښځو د حرمت او خصوصي امنیت په نه پام کې نیولو سره، پر کورونو چاپې وهي، د زکات د پیسو په شمول یې پیسې کنګل کوي، چې د پیسو دغه کنګل کول له کوم رسمي سند پرته کېږي او بیرته هم نه ورکول کېږي. هغه کسان چې «د امریکا د پالیسو د رشد» پر وړاندې غبږ پورته کوي، نیول کېږي، شکنجه کېږي او ان برمته کېږي.

ان له خلاصون او آزادۍ وروسته، هغه کسان چې یو ځل د «تروریزم ضد ادارې» نیولي، هرکال یو ځل ځورول کېږي او ان جسمي او روحي عذابونه ورکوي، ترڅو ورته عبرت وي. دولت ددې پرځای چې له خپلو اوسېدونکو څخه مخلصانه ساتنه وکړي، د وخت د ښکېلاکګر پر بې رحمه اداره بدل شوی، چې په شدت سره یې ټول اوسېدونکي تر فشار لاندې راوستلي دي. دغه بې پروا او خاین دولت ددې پر ځای چې د خپلو اوسېدونکو له عزت، شرافت، مال او ځان څخه ساتنه وکړي، د امریکا د اړتیاوو په پوره کولو سره د ډالرو د ترلاسه کولو هڅې کوي، چې دغه حقیقت د ګاونډي هېواد افغانستان تر وحشیانه اشغال وروسته څرګند شو.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له ټاکنو څخه مخکې د عمران خان له ژمنو سره سره چې ویې ویل: «نور به د امریکا په شاجور کې مرمۍ نه وو.» له بده مرغه دادی دغه سړي د خپلو ویناوو پرخلاف عمل وکړ او د «ترهګرۍ پر وړاندې د امریکا په جګړه» کې یې ګډون وکړ، په پایله کې یې پاکستان د دولت د «اوسپنیز سوک پر پولیسو» بدل کړ، چې نظامي ځواکونه له کومې نیوکې او ځواب ویلو پرته د بې ګناه خلکو پوزې ماتوي. راځئ تصمیم ونیسو چې دا په ساهیوال کې د بې ګناه خلکو د وینو تویېدو او د ماشومانو د یتیم کېدو وروستي تلفات وي، چې موږ یې له نړیوال تروریزم یعنې امریکا سره د باجواه-عمران د خاین حکومت د ملګرۍ له امله زغمو. نور باید اجازه ورنه کړو چې د محکمې د تصمیمونو د توهماتو او خیال بافیو او د پولیسو د څېړنو قرباني شو او دغه چاره یوازې د یاد مات شوي نظام او د هغوی د ناوړه ملګرو د حیات لامل ګرځي او بس. راځئ ددغې «تروریزم ضد ادارې(CTD)» د ړنګولو او ویجاړولو لپاره فوري هڅې وکړو او پاکستان د امریکا له هر ډول اطاعت، تعهد او فرمانبردارۍ څخه خلاص کړو او د نبوت پر منهج د راشده ثاني خلافت بیا تاسیس مو کاري لومړیتوب وټاکو، چې په یوازېتوب سره د مسلمانانو او اسلام حقیقي ډال دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

(مسلم)

ژباړه: په ریښتیا امام(خلیفه) هغه ډال دی چې ترشا یې تاسو جګړه کوی او ده ته پناه راوړی.

**د حزب التحریر ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/ ۲۴**

**د ۱۴۴۰هـ.ق، د جمادی الأول ۱۴مه**

**د ۲۰۱۹م، د جنوري ۲۰مه**